سوال: د غني خان په ژوند او فن لیک اوکړئ.

## د غني خان تعارف:

خان: عبدالغني خان د باچاخان زوی و، چې د علم ښتره مشر و. غني خان د 1914 عیسوي کښې د فخر افغان خان عبدالغفار خان کره د چارسدې په اتمانزو کلي کښې زیږیدلے و. هغه داسې شاعر و چې د مینې، ښکلا او انسانیت خبرې کولې. غني خان د خپل شاعرۍ په ذریعه د انسان د روح، عقل، سوچ او آزاد فکر تصویر وړاندې کاوه.

غني خان فرمائي.

"زه د انسان د ښکلا شاعر یم"

## د غني خان ژوند او فن:

### (۱) د غني خان علم او هنر:

د غني خان کور د علم، پوهې او سیاست کور وو. د هغه پلار باچاخان د تعلیم شعور او ازادۍ لار ښودونکی و. په داسې چاپېریال کښې د غني خان ذهن له وړوکتوبه د پوهې او مینې له احساس سره رنګ شو. غني خان د خپل پلار نه زده کړه کړې وه چې علم او فکر د انسان لپاره رڼا ده. د ده کور هم د ښوونزاره سبق وه، چې ده ته یې د احساس او تربیت درس ورکاوه.

### (ب) د غني خان تعلیم حاصلولو د پاره هند او انګلستان ته سفر:

غني خان د ښتنل هائي سکول پېښور نه ابتدائي تعلیم حاصل کړو. ابتدائي تعلیم نه پس د اتمانزو هائي سکول کښې داخل شو. او د سم جماعت کولو نه پس جامعه ملیه دهلي ته لاړو. او هلته کښې د هنر او فلسفې زده کړه وکړه. بیا انګلستان ته لاړو. او هلته یې سمه پوهه اوکړه چې اصلي زده کړه خو د ژوند په تجربو کښې ده.

غني خان فرمائي

د هندوستان د ځمکې به مړو که اوزګړ لوګیږي
خو د جونګړې به غطمن بازو ملنګ لوګیږي

## (پ) د غني خان د بند رو سخت ژوند تجربې:

کله چې باچا خان د خپل تحریک د باره بیا بندي شو، نو غني خان هم ورسره بندي شو. او دې دوران کښې ده پر ژور فکرونه وکړل او د شعر لیکلو ته ورننوتو. او په دې محبس‌خانه کښې د دا احساس اوکړ چې انسان فکري ازادي له دننه پیدا کوي. دغه تجربې ده ته د ژوند فلسفه ورزده کړه.

غني خان وايي:

اے غني خپې د رباب تاروته څه شکوې
بې ذوقه خلق نه به وائي راونه په رنګ نه کهیږي

مه چې د دین فلسفه څوموره پوره وکړله
سمرې به نه یم که ملا صاحب یې به سر ټک
لوکیږي

## (ت) د غني خان د شاعرۍ احساس، مینه او فلسفه:-

د غني خان د ماشوم توب نه شاعرۍ سره مینه وه. څو د "پلوشه" له کتاب سره یې شهرت ډېر پیښو. دا مجموعه شعرونه د انسان احساس، عقل، او د ژوند د پښتو ژبه ده. ده په خپلو شعرونو کښې د مذهب، ټول ماحول طنز و مزاح هم اړخ ښکاره کړي دي. غني خان د پښتو شعر ته نوې ژبه، نوي خیالونه او فکري ژورتیا ورکړې ده.

غني خان وايي:

ماویل غني یار څه بې اندازه ځوندي یې.
ادب د بې دو کښې کم، ژبه دراز ځوندي یې.
ښیښه ده کمه وده نه هم خان شوې، نه ملا شوې.
خو ته دې ده پیاوړو کښې دا بې پیازه ځوندي یې.

## (ث) د غني خان د انسان ازاد فکر او وجدان باره کښې خبرې

د غني خان د الله سره بې شانه مینه وه. ځکه هغه همېشه غوښتل چې انسان د خان دننه خدای ومومي، غني خان همېشه انسان ته دا نصیحت کوو چې عقل او وجدان نه کار واخلي، د دا مذهب احترام کووه او د تعصب او جهالت مخالف وو.

غني خان ځکه الله نه مخاطب دی او وائي چې

چې د سینې دننه زړونه سپین وي
خبر دي مخونه ورله تور پیدا که
چې د غني په شان تا ووینې
خدایا! بیا څو سپین تور پیدا که.

## (ج) غني د لیوني فلسفي په نوم یادېږي.

غني خان په ادبي دنیا کښې د لیوني فلسفي په نوم یادېږي د ده شاعرۍ کښې د حسن و عشق یو ډېر لوی مقام دی. د عشق په یو داسې سمندر کښې ډوب دی. چې سوا د ده قیمتي ملغرو نه تور هیڅ نه راوباسي. غني د شاعرۍ په حقله یو نقاد لیکي چې لطیف او خودي، سرور او مجاز، شوخي او رنګینې، حسن او عشق، رنګ و خیال، او د جذباتو او واقعاتو صحیح تصویر کشي د ده کلام روح دی.

## (چ) د غني خان د شاعرۍ مجموعې:

د غني خان په شاعرۍ مجموعو کښې د پنجرې چغار، پلوشې او فانوس شامل دي. اوس یې ټول کلام د غني لټون په نوم چاپ دی. د پښتو د ژوند او تاریخ په حقله یې په انګرېزي کښې (دی پټهانز) نومې کتاب چاپ دی. او پښتو کښې یې ترجمه قلم شوې ده. د ده ښلو اعلی خدماتو په سبب صدارتي ایوارډ یا تمغه هم ملې. د ده کلام نمونې یې دا ده.

زه یم زه رنګ، سرور او سرشار زه یم
د جانان سترګو کښې هم راوړی خمار زه یم
دا تغیر زما د مست زړه د ښائست دے
یار زما د زړه ارمان دے دلدار زه یم

زما زړه چې د ښائست او رنګ ښي او ګي
سپرلے سره ګلونه داسې بهار زه یم.

دا چې زه یم د موسکو شونډو لیواله
ښکلې جوړه کړم د حسن معمار زه یم.

دا خو زه د خپل سوز په هوا سوز کړم
روح مطرب معنی، آواز او د ستار زه یم.

چې زه نه یم بې معنی جنت آسمان دي.
د جهان د سوز و مینې مختار زه یم.

دومره لوی شوم دي وړوکي ګوټي زونډ کښې
یار زما کمال، کمال د دلدار زه یم.

(ج) غني خان مینه د ژوند رڼا بولي:

غني خان فرمائي چې مینه هغه ده چې ژوند ته رڼا ورکوي. خوښي او احساس ورکوي. غني خان د ژوند په هره سیمه کې ده مینې دلارۍ او د انسان د نرم زړه خبرې کوي. غني خان وائي چې په زړه کښې مینه ساتلو سره انسان د الله خوا ته نژدې کیږي.

غني خان وائي

په زړه کښې یې اور بل دے لو لګیږي دے د جانان
داسې حسن مجسمه دے چې بیا نه کیږي بیان
او دغه چې د سترګو بڼ دے. خو ښکاره کیږي هر زمان

## پایله: غني خان د پښتو ادب یو نه هېرېدونکی نوم:

غني خان د پښتو ژبې یو داسې لیکوال دی چې هېڅکله به هېر نه شي. ده د شعر، فکر، فلسفې او هنر له لارې د ژوند مانا ښودلې ده. غني خان خلکو ته دا پیغام ورکړ چې مینه، علم او انسانیت د ژوند ښکلا ده. غني خان به تل د پښتنو په زړونو او ذهنونو کې ژوندي پاتې وي.

غني خان وائي

نه صنم نه صنم پاره مې غرض انجام د کلستې نه دی
خلاصېدل شراب په جام کښې اختتام د مستۍ نه دی

چې ما ښاپېره ده ځو مې ښېې وي، نو د هغې سپا هم وي
چې رڼا وي ښاپېره هم وي، چې ښاپېره وي رڼا هم وي